1432/2/6



نن ټکی آسیا

# د قرآن او لمانځه برکتونه

ژباړن: عبد الله ګل ریان | وینا: مولانا طارق جمیل

د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: ............................................. د قرآن او لمانځه برکتونه

ویناوال : ............................................. مولانا طارق جمیل

ژباړن : ............................................. عبدالله ګل ریان

د چاپ کال : ............................................. ۱۳۸۲ هـ ش

د چاپ وار: ............................................. لومړي چاپ

اَلْحَمْدُلِلّه نَحْمَدُه وَنَسْتَعِينُه وَنَسْتَغْفِرُه وَنُوْمِنُ بِه وَنَتَوَكّلُ عَلَيه. وَنَعُوْذُبِاللّه مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمَنْ سَيِاٰتِ اَعْمَالِنَا. مَنْ يَهْدِه اللّهُ فَلاَ مُضِلَّ لَه وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلاَهَادِيَ لَه ...وَنَشْهَدُاَنْ لاّ اِلهَ اِلاّاللّهُ وَحْدَه لاَ شَرِيكَ لَه وَنَشْهَدُاَنّ مُحَمّداًعَبْدُه وَرَسُوْلُه...

اَمّابَعْد..فَاَعُوْذُبِاللّه مِنَ الشّيطٰنِ الرّجِيمِ ... بِسْمِ اللّهِ الرّحْمٰنِ الرحِيمِ ...قُلْ هٰذِه سَبِيلِي اَدْعُوْا اِلَي اللّه عَلٰى بَصِيرَةٍ اَنَاوَمَنِ اتّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللّهِ وَمَا اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِين ...وَقَالَ النّبِي صلى الله عليه وسلم: يا اَبَاسُفْيَانٍ جِئتُكُمْ بِكَرَامَةِ الدُنْيا وَالاَخِرَةِ.

زماورونړواوعزیزانو !موږ داسي ژوندنه کووچي مقصد مو پکښي الله وي.موږ په خپل مقصد سره نه یو ، بلکي ورڅخه ډیر لري یو.نه دالاره دنژدیوالي ده او نه هم د خلاصون.

نه لارښود پاته وي،نه منزل،سامان ورک شوي او له کاروان څخه هم ګوښه یو.نه دراتلونکي څرک لګیږي او نه دوروسته پته شته. موږ هغه پردیس ته ورته یو چي، مال او شتمني یې ورکه کړي او له کاروان څخه هم پاته وي. راتلونکي شپه تیاره ده ،سفر خورا اوږد دی،دمنزل څرک هم نه لګیږي،دپتنګ په څیر نه پوهیږو ، په کوم تار بندیو او په کوم حال کښي راګیر یو.په کومه ونه کښي ختلي او کومي څانګي مو سینه راته څیرلې ده...

په تبلیغ کښي ددي محنت اوزیارګاللو مقصددالله ج لورته ددي راندہ انسانیت متوجه کول دي.زموږ دسرو او ښځو هیله ده چي،هغوي ته وښیو.ترڅو الله جل جلاله مقصدوګرځوي او ژوند وکړي. دالله لپاره ورته مرینه وښیو ....الله ته ورتلل وښیو.خوښي هغه ده چي دالله خوښه وي. غم هغه ده چي الله ته خوښ وي..اظهار هغه دی چي الله ته خوښ دي او اخفا هغه ده چي الله ته خوښه وي.

# دا احمقانو نړۍ

موږ د خلګو په نظر ارزول کېږو.خو په دي مسئله نه حل کیږي. یاد ولرئ،دالله په نظرپه ارزولو مسئله حل کیږي. یوه نجلۍ ناوې کېږي،ښکلي کیږي،همزولي ورته کیسي کوي چي دا خورا ښکلې ده،هغي ته ژړا ورځي.هغه وایي:ستاسو دنظرونو په قضاوت زما کار نه کیږي،زه چي چیري ځم تر هغه چي دهغوي په نظر زما ارزونه ونشي؛ زما مسئله نه حل کیږي.

زما ورونو او خویندو !دا یوه ړنده نړۍ ده ،دادلیونیانو نړۍ ده ، دادا احمقانو نړۍ ده.ددوي د نظرونو په قضاوت سره نه دچا کارجوړیږي او نه دچادمیرمني کار جوړیږي.

یوازي دالله په قضاوت زموږکارونه جوړیږي. نوښایي:

کوم راسره مینه کوي ،کوم مینه نه کوي،کوم مو مني، که مو نه مني،ځوک مو ویني،که مو نه ویني،کوم رانه پوښتنه کوي اوکه یې نه کوي،کوم ښایي اونه ښائي ،کوم مو نژدي کوي، که مو لري کوي، کوم مینه کوي، که کرکه کوي،ځوک سلام راکوي ،که راسره نښلي.

# له زړه او دماغ څخه ناولتیا لري کول

زموږ مسئله له پاسه حل کیږي.زموږ کار جوړیږي،موږ الله راضي کوو...دامطلوب دی.دهري کارخاني ښښتن، دهري ریړۍ ښښتن، هر بینوا ،هر امیر،هر زوړ او هر ځوان هر سړي او هري میرمنې ته داپوهیدل لازم دي چي، په زړه او دماغ کښې الله جل جلاله او دهغه درسول یاد ولري. ګناه ده او ګناه ،ناولتیاده اوناولتیا.دالله لپاره څه وینو ، دا څرنګه کاروان دی چي لاره لا درکه شي،منزل لادرکه شي،متاع ورکه شي،بیاهم مست وي،داڅرنګه کاروان دی؟

زما په خبره ځانونه پوه کړئ ،زه کوم مقرِر نه یم،زه په پخپله دردمند یم،زه په خپله دي منزل ته رسیدل غواړم....روږدي کیدلاي شي،نورهم ځوک راسره ملګري شي. یوازي سفر کول ستونزمن دی،منزل ورکیږي،انسانیت ورکیږي،توبه وکړي ورونو ،داژوند چي موږ پکښې لګیا یو.داکوم ژوند دی، نڅیدل، خوړل، ښښل، اغوستل، داهم څه ژوند دی. مړینه ده او په قبرونو کښي ویده کیدل او داستان مو دژوند له ډګر نه لري کیدل؛ داهم ژوند دی.

# اي زما امته !لمونځ مه پریږدئ

زما ورونړو ! رسول الله صلی الله علیه وسلم چي په خپل امت کوم احسان کړی دی، کوم بل نبي کړی نه دی، دمړيني په مهال هر څوک خپل اولاد ورغواړي، رسول الله دمړيني په مهال، کړکېچ پرانستله، خپل امت ته يي وکتل او په وروستنۍ شيبه کښې يي هم خپل امت ته ناري وهلي:
"الصلوة وما ملکت ايمانکم....
اي زما امته ! "لمونځ مه پرېږدي.لمونځ کوئ له غلامانو سره ښه سلوک کوئ. "
اخري شيبه يي ميرمنو ته ويل،څه يي حسن او حسين رضی الله عنهما ته ويل.خو دټول امت غم ورسره وو ، بيا يي غږ ټيټ شو.الصلوة ،الصلوة، الصلوة يي وويل او روح يي لاړه.لمونځ ،لمونځ يي ويل او له نړۍ يي سترګي پټي کړي.
لمونځ دالله جل جلاله اوبنده ترمنځ دخبرو ،اترو ذريعه ده.الله جل جلاله په قدسي حديث کښې فرمايي:
"لمونځ زما او زما دبنده تر منځ خبري دي. "
زما بنده وايي:الحمد لله....زه جواب ورکوم: حمدني عبدي....زما بنده زما ستاينه کوي....زما بنده وايي الرحمن الرحيم...زه وايم اثني عبدي ...زما بنده ثناء بيانوي ...بنده وايي مالک يوم الدين...زه وايم.... مجدني عبدي ... زما بنده زما لويي بيانوي.
زما بنده وايي: اياک نعبد واياک نستعين....زه وايم هذا بيني وبين عبدي ....دازما او زما دبنده ترمنځ دي، عبادت مالره دی او غوښتنه زما دبنده ده ...اي بنده ! غواړه زه ستا لورته متوجه يم اوس چي ته څه غواړي،زه يي درکوم.

# دلمانځه پابندي کوئ

آذان وشي ،ټول بازار بند شي،څه عجيبه خبره ده.هر ټال وشي په زور يي بندوي...
تر آذان وروسته بازار بند کړئ، بيا وګورئ څرنګه سره زر ستاسو په دوکانونو کښې څومره زياتيږي.
که بازار وران شي څه کيږي؟چيري لمونځ کيږي. دوکانونه هم دلمانځه تابع دي،څوک په يوه بجه څوک په يوه نيمه، څوک په دوو بجو لمونځ کوي.يو ورور يي هلته کوي او بل هلته...دوکانونه چليږي ،بند نه دي...دوکانونه تر آذان وروسته بند کړي.
کوم کار چي تر آذان وړاندي کيده، اوس هغه کارد دوکان په بندولو کيږي.دالله په وړاندي سر ټيټ کړئ چي

له لمانځه سره مينه وشي.... په حديث کښي دي:
"جلعت عيني في الصلوة "....زما دسترګو سوړوالی لمونځ دي.
چي په سمه طريقه لمونځ وشي، په الله سوګند په مصلي به ناست يي، مسئله به دي حل کيږي.بيابه تاته دار، ياوزير ته ورتلل نه وي..ددي لپاره لمونځ کافي دی...کوم لمونځ ؟
کله چي ووايي الله اکبر، بيا دسلام ترګرځولو نورڅه درسره نه وي، ساتونکي شي، باخبر چي بل شي رانشي، دا لمونځ تاته درښيي.الله اکبر...اوس پرته له الله هيڅ نشته تر سلام ګرځولو پوري بس ته يي او الله.بيا ګوره چي له دي لمانځه څخه څه جوړيږي.

# لمونځونه زده کړئ

زما ورونو !دا زده کړئ....لمونځ وکړئ.لمونځ دغسي نه راځي زيارايستل غواړي...په زيارهمدالمونځ پيدا کيږي...په لمانځه کښې دومره جاذبيت دی....يوشخص وايي :
زه په حرم شريف کښي وم...علي (رض) راغی....چپلي يي په لاس کښې، له ږيري يي داوداسه اوبه بهيدلي...چپلي يي کښيښودلي... دلمانځه نيت يي وکړ...ما کتل چي څه وخت به رکوع ته لاړ شي.وايه يي ترڅو په والناس رکوع ته لاړ.په يوه رکعت کښي بشپړ قرآن......
مورږ ته قل هوالله احد هم تر نظر اوږد راځي.
ورونو !لمونځ زده کړئ.خلک په څلورو رکعتونو کښي يوازي قل هوالله احد وايي.څلور سورتونه خوياد کړئ، ترڅو چي په هر رکعت کښي يو ،يو سورت تلاوت کړي. يو سورت په څلورو رکعتونو کښي مکروه دی. لمونځ کيږي خو لږ تر لږه څلور سورتونه خو ياد کړئ.
چي دعايي قنوت يي زده نه وي، هلته هم قل هوالله احد لولي. ورونو !دقل هوالله احد په لوستلوڅرنګه دعا قنوت اداء شي. که ربناء اتنا في الدنيا ووايا ست نوذکر خو کيږي. که مود قنوت دعاءزده نه وي، "رب اجعلني مقيم الصلوة "ووايا ست يا "ربنا اتنا في الدنيا... "ووايا ست...لمونځ موکيږي.دا ترهغه چي دقنوت دعا ياده کړئ. وِتر دقل هو الله احد په ويلو نه اداکيږي....
زما ورونو !لمونځونه زده کړئ،هسي لمونځ چي له الله اکبر څخه تر سلام پوري مو فکر بل لورته لاړ نشي.

# دالله په مينه کښي دژړا خوند

زما ورونړو !په الله قسم،موږ پرديسيان يو...موږ لارويان يو... موږ نه پوهيږو چي خوند څه شي دی؟ژوند څه ډول تيريږي؟. هغه چي د ډوډۍ خوړلو خوند ووينې. څه پوهيږي چي، دذکرخوند څه شي دی.هغه چي دنظر کولو په خوند پوهيږئ، نو هغه څه خبردي چي دنظرپه راګرځولو کښې څومره خوند دی.هغه چي دلمانځه خوند ورته محسوس نه وي.ترهغه به څوک بې برخې وي... افسوس، افسوس...په کروړونو خلګو کښې کم داسي ليدل کيږي چي دلمانځه ،خوند ورته په برخه شوي وي.
دا ژړا خو مو په هغه چا ده چي لمونځونه کوي،هغه چي لمونځونه ،نه کوي،په هغوي خو داوښکو په ځای دويني دبهيدلو ژړا هم کمه ده.
څوک چي لمونځونه کوي،هغه کله هم کښيناستلي او دا فکر يې کړي دی چي اي مولا ! ستادميني وړ سجده مو درته نه ده کړي...ستا په تعلق کښې مو يو رکعت هم کړي نه دي. اي الله ! اوس ته په (رحمت سره ) راشه.
هره هيله له زړه څخه رخصت شوه ....اوس ته راشه چي خلوت شو.

# دلمانځه حيرانوونکې فضيلتونه

جبرائيل (ع) راغی...يارسول الله !آسمان ښکلې کيږي.... الله دعرش دپاسه ستا انتظار کوي...نو له بيت الله څخه بيت المقدس ته لاړ شه ،دلمانځه سوغات درته په عرش کښې درکول کيږي.
دادومره ستر شی دی،کوم وخت چي آذان کيږي او لمونځ کوي، کله چي آذان کيږي، ترکومه ځايه چي غږ رسيږي،دهغې سيمې هره تيږه به دقيامت په ورځ درباندې ګواهي وايي، هره ونه به درباندې شاهدي وايي...چيري چي سجده لګوئ ،تر تحت الثری به ځمکه پاکيږي....په حديث شريف کښې راځي:
کله چي انسان په ځمکه سرکښيږدي،دالله تعالی په قدمونو کښې سر ږدي.کله چي الله اکبر ووايي دځمکې او آسمان فضا له نورڅخه ډکه شي،دعرش پردې پورته شي. دجنت دروازې پرانستلې شي،دجنت حوري دجنت دروازې پرانيزي او لمونځ کوونکي ته ګوري.څومره چي اوږدقيام وکړئ، هغومره به دمرګ سختې درباندې اسانه تيريږي.اوږدلمونځ کول دمړيني سختې کموي.
چي له رکوع څخه راهسک شي،الله تعالی ورته په مهرباني ګوري.چي سجدې ته لاړ شي، ټولې ګناوې يې مينځل کيږي.چي التحيات لولي، دصابرينو اجر ورکول کيږي. چي په لمانځه کښې

درود وايي، الله تعالی ورباندي لس ځله درود استوي. چي سلام ګرځوي، له ګناهونو څخه پاک شي.

# دلمونځ کوونکو د پنځو درجو تفصيل

ابن قيم (رح) دلمونځ کوونکو پنځه درجه ښودلي دي:

۱- لومړي درجه دسست ده چي کله لمونځ کوي او کله يې پريږدي دادوزخ ته ځي.

۲- دوهمه درجه هـــــغه ده چي، بي قاعدي يې کوي، په خپل فکريي کوي، کله الله ته متوجه نه وي په هغـــوي ملامتي ده.

۳- معافه معفوعنه، دادريمه درجه ده، کوشش کوي، متوجه نه وي، کله يې توجه وي او کله بي فکره، دابه په مراعاتي ډول برياليي کيږي.

۴- څلورمه درجه دمهجور ده چي الله اکبر ووايي، له دنيا څخه يې علاقه غوڅه شي، الله ته متوجه شي څو چي سلام واړوي، حکمت يې دادی:

کله چي الله اکبر ووايي له ځمکي هسک شي، په آسمانونو کښې دننه شي، هغه نو په ځمکه نه وي. بلکي تللي وي چي لمونځ ختم شي، بيرته راځي. دي لوري ته هم سلام وايي، هغي لوري ته هم سلام وايي. دا درجه ده چي دلمـــــــــانځه اجرور کول تري پيبل کيږي. دداسي لمونځ کوونکي ژوند کله هم نه خرابيږي.

۵- دلمانځه پنځمه درجه هغه ده چي دمقربينو دلمانځه دانبياء او صديقينو دلمانځه ده، دهغوي دسترګو سوړوالی لمونځ وي.

# دجمعي دلمونځ کوونکو لپاره خبرتيا

دهغه قدمونه دنورو پنځو لمونځونو لپاره ولي نه اخستل کيږي... داچيري ځي؟

ايا دی دالله په ځــــــمکه، اته نوري ورځي نه اوسيږي.

ايا يوازي اتمه ورځ دالله په تنونوډيره هوا تنفس کوي ؟

ايايوازي اتمه ورځ دالله له ورکړل شوي نورڅخه ګټه اخلي؟ايا يوازي په اتمه ورځ په خپلو غوږونو اورئ ؟ ايايوازي په اتمه ورځ دخپل جسم له نعمتونو ګټه اخلي. ايا يوازي اتمه ورځ دلمر له رڼا ګټه

دا کتاب په نن ټکی آسيا ويب پاڼه کي نشر شوی، تاسو کولای شی، چي نور هم ښه ښه کتابونه په لاندي ادرس کي ترلاسه کړی

www.nunn.asia

تر لاسه کوي؟ ایا اتمه ورځ د ستورو له ځلا څخه خوند اخلي؟ ایا یوازي اتمه ورځ د خپلي میرمنې او اولاد سره ناسته ولاړه کوې؟

په دي سخت زړي څه شوي دي؟ ولي یي دروازه بنده ده ولي روان شوي دي؟ ایا دا تر تیږې سخت نه دی؟ !

# سخت زړی انسان

عطاء الله شاه بخاري رحمه الله ویل:اي د هندوستان هستوګنو ! تاسو ته دومره قرآن اورل شوي دی.که موحرم ته اورولي وای، صابون به جوړ شوي وو.که موتیږو ته اورولي وای،موم شوي به وو. سیندونو ته مو اورولاي وای، طوفان شوي به وو.څپو ته مو اوروالي وای، څپې به یي ختمي شوي وي.نه معلومیږي له تاسو څه شي جوړشوي دي ؟ستاسو په سینو کښي زړونه نه دي. ترډبرو هم سخت دي. "اشد قوة من الحجارة .... "ډبره هم دالله له هیبت څخه لړزیږي...

تاسو څرنګه انسانان یاست.....په څه ډول سینو کښي مو زړونه پراته دي....؟

# دعثمان رضی الله تعالی عنه دلمانځه کیفیت

عثمان رضی الله تعالی عنه راځي...مسجد ته راځی... خپل انفرادی لمانځه ته راځي،چمپلی ږدي،نیت کوي. الله اکبر وایي، په آلم لمونځ پیل کوي،عبدالرحمن تمیمي رضی الله عنه یي خوا کي ناست دی،هغه اوري. لمونځ په آلم پیل کوي،ګوري څه وخت به رکوع ته لاړ شي.

بقره وویل شو ،آل عمران ختم شو ، نساء وویل شو مائده،انعام ،اعراف وویل شول.

لس سپاري ختمي شوي ،شل سیپاري اودیرش سیپاري وویل شوي،والناس ته ورسید.عثمان‌رض رکوع ته لاړ ...رحمة منتظرة .... دانفرادي اعمالو حلقه یي جوړه کړې وه.

# په لمانځه کښي دعبدالله رضی الله تعالی عنه اهتمام

عبدالله ابن زبیر رضی الله عنه ولاړ ؤ ،نن شپه یي دقیام وه،دسهار په آذان رکوع ته لاړ. وایي نن شپه مي رکوع ده، ټوله شپه په رکوع ؤ ، دسهار په آذان رکوع ختمه شوه....

وایي نن مي دسجدي شپه ده،ټوله شپه په سجده ؤ. ...دسهار په آذان یي له سجدي سر راهسک کړ، دا د انفرادي اعمالو کړی وه ...

زه عرض کوم، که یوازي لمونځ ژوندي شي، په ټول سیند کښې بې نمازه پاته نشي، دا د سیند ځمکه چې ما یې ټولي لاري لیدلي .... دښتې دي دا ځمکه به له سرو زرو ډکي شوي وي.

# د زړه اسرې لاړې اوس ته راشه

د حضرت انس رضی الله عنه نوکر راغی ویل یې: باغ وچیږي که اوبه نه وي هغه به وچ شي ،هغه مهال نهرونه نه وو ،ژوری څاګاني نه وې.ویې ویل :ښه مصلی راوړه ،وبه ساتل شي.الله اکبر ...نفل یې پیل کړل، اوږده رکعتونه یې وکړل ...سلام یې واړاو...

وګوره وروره ! څه شي لیدل کیږي. ویې ویل :جناب څه شیی نن نشته . ویې ویل:ښه ،بیا الله اکبر ....بیا یې نفل پیل کړل.دوه رکعته یې وکړل.ویې ویل:وروره څه شی ویني؟ویې ویل :لري د پردي په څیرورایځ راغله.دباغ د پاسه ولاړه وه.سلام یې واړاووباران وشو.نوکرته یې وویل: لاړشه وګوره باران چیري ،چیري اوري؟نوکر لاړ، ویې لیدل باران دباغ ددیوالونودننه اوري،بهرتري یو څاڅکي هم نه ؤ.که یوازي لمونځ په سیند (هیواد )کښې ژوندی پاته شي.کوم بې نمازه نه وي...دننه ذوق پیدا شي. ددي لپاره نه چې شتمني پیدا شي...ددي دپاره چې زموږ الله،زموږ سره مل شي...

# په خونه کښې هیره

ابوریحانه رضی الله عنه د جهاد له سفر څخه راغی ،کورته راورسید ،دماخستن ترلمانځه وروسته یې خپلي میرمني ته وویل: دوه رکعته نفل به وکړم،بیا به کښینو خبري به سره کوو ،دوه رکعته نفل ...الله اکبر ،اوس هغه ناسته ده....قل هوالله به وایي رکوع به وکړي له اوږده سفر څخه راغلي دي، څه وخت به کښیني او خبري به وکړي.

هغه آلم پیل کړ،ویل یې :د سهار آذان وشو...ابوریحانه سلام واړاو.. میرمني ته یې قهر ورغي ویې ویل:

اما انا منک نصیب....زماحق چیري لاړ...؟

تبعت و اتبعتني ....موږ ته هم زیان رسوي او ځان ته هم. یو دبیلتون ناخوالي بل دنژدي راتللو تلوسه.زماحق چیري دی؟ ویې ویل :وبخښه ،هیره مي شوي.ویې ویل:الله درسره نیکي کړي، څرنګه دي هیرشول.ته چي له دي ځای څخه لاړشي، زه دي لري نه هیروم او دلته په یوه خونه کښې

هیره شوم، څرنګه هیره؟ ویې ویل:کله چې مې الله اکبر وواېه، جنت مې څنګ ته راغیهر څه هیر شول.

# مړ خر، ژوندی شو

زما ورونو ! دالله لپاره دهغه ژوند لوري ونیسي چې،په هغه کښې ددنیا او اخرت کامیابي نغښتې ده.هغه دالله او درسول دخوښې ژوند دی.
نباته بن یزید نخعي رحمه الله، دالله په لارکښې ووت ... خر یې مړشو... ملګرو ورته وویل:سامان دې مونږ ته راکړه ... ویې ویل:نه تاسو لاړشئ، زه درځم ...یو لوري ته شو ...الله اکبر ...نیت یې وکړ....دوه رکعته یې وکړل.سلام یې واړاوو.ویې ویل: ای الله عبدک في سبلیک...
اي مولا !ستا بنده ستا په لارکښې دی. "یحیي العظام" اي هغه ذاته چې هډوکي ژوندي کوي....زما دي مرکب ته اړتیاده ... ته غني اوزه اړ یم....زه پرته له مرکب څخه څرنګه سفر وکړم...دامرکب را ولاړ کړي...مړ خر یې وواهه ...پورته شه ...هغه غوږونه وښوراوو ،پاڅید .... دچا په لمانځه چې په مړوکښې روح ننوزي...هغه ددنیا مسئلې حل کولای نشي؟هو خو چې لمونځ ،لمونځ وي.
دالله دحبیب خبر ده ...دلمانځه کول زده کړئ...هلته چې دلویو پاچهانو او دجهان کارونه وران وي اولاري بندي وي ستا لمونځ به تا هلته هم ورسوي.

# په سمندرکښې دآسونو منډه

علي رضی الله عنه دسمندرغاړي ته راغي، په بحرین یې برید کاوو. په لارکښې سمندرؤ.بیړۍ نه وي ،که بیړۍ چمتوکیږي دښمن را وړاندي کیږي او سفر د ۲۴ ساعتونو ده ،هلته لښکر ولاړ ؤ....کوز شو....دوه رکعته لمونځ یې وکړ ...لاسونه یې اوچت کړل:
اي الله ! ستا په لاره کښې ،ستا ددین په دعوت کښې ...ستا دنبي مریي یم.بیړۍ راسره نشته ..تاته خو مشکل نه دي... مونږ ته لاره جوړه کړه.
دادعا یې وکړه ،دسمندر په غاړه پوځ ته یې وویل:
بسم الله وواياست..آسونه ورواچوي.
هیچا ونه ویل:چې امیر صاحب دماغ دي سم دی....؟
په سمندرکښې دآسونو اچول خوغرقیدل دي...دا څرنګه وایي ... دادعقل غوښتنه ده؟

هغوي وويل: سمه ده زموږ امير دوه رکعته وکړل، له الله څخه يې وغوښتل.آسونه وراچول زموږ کار دی. تر اوبو تيرول يې دالله کار دی.

ابو هريرة رضی الله عنه وايي: فسمعنا وقتحمنا ...ټول لښکر وويل: بسم الله او ټول اوبو ته ولويدل ،آسونه او اوښان ټول ...ابو هريرة رضی الله عنه وايي:

وقتحمنا .... موږ روان شوو. فاعبرنا ومابلل ماء اسفل خفاف ابلنا ... موږ په اوبو باندي تير سوو او اوبو زموږ پښې تر بيډيو لمدې نکړي.

دادلمانځه برکت دي، دابو دپاسه ځي...

وروه ! دسائنس ټوله نړۍ ناکامه ده، زموږ دحبيب علم بريالی دی. دهغه ژوند ،دهغه خبر، تر ټولو خبرونو لوړه ده. ټول سائنس دلته ناکاميږي، دلته دالله دنبــي خبر بريالۍ کيږي....دوه رکعته وکړه؛ ځه داوبو دپاسه..

# اي سمندره ! زما لوښې بيرته راکړه...کنه !

ابو مسلم خولاني رحمه الله يو تابعي دی.دشام په غرونو کښې يو سيند دی، دغرونو سيندونه په تيزي بهيږي. نوموړی هلته تيريده .... ويې ليدل چي سيند خومره تيز دی. دري زره تنه پوځ ورسره ؤ.هغه ترسيند اوښت خو بيړۍ نه وه.هلته يې دوه رکعته لمونځ وکړ. دعا يې وکړه:

اي الله ! ستادنبي امتي يم.تابني اسرائيل له سيند څخه پوري ايستل.موږ له دي سيند څخه تير کړه..

بيا يې اعلان وکړ، زه مي آس اوبو ته کښته کوم، په ما پسي آسونه راخوشي کړئ.که دچا کوم سامان ورک شو. هغه زما په ذمه دی. ځان خولويه خبره ده، که سامان هم ورک شو ،زه ذمه وار يم.

آس يې اوبو ته واچاو ،داوبو په سرروان شو...په منځ کښې يوه سړي خپل يو لوښې(بدنۍ) په خپله اوبو ته وغورځاوو. دازمويلو لپاره يې واچاو.کله چي ددرياب غاړې ته ورسېدل.پوښتنه يې وکړه :دچاکوم سامان ؟

هو ! زما بدنۍ ولويدله ....بدنۍ معمولي شی دی، هغه يې له کومه راوړي، هلته به له ډېرو سره وي...ويې ويل :ښه ستابدنۍ ورکه شوه....راځه.بيرته دسيند څنډې ته ورغی ...بدنۍ پخوا لادسيند په څنډه کښې پرته وه...واخله بدنۍ دي درواخله...

# دمسنون اذکارو له پاره وخت وټاکئ

دا دلمانځه برکت دی....لمونځ کول زده کړئ ...ټولې مسئلې به حل شي...
ورونو !خپلو میرمنو ، خپلو زامنو ، خپل لونړو ته لمونځونه ور زده کړئ .....لمونځ ورته یاد کړئ، که مو په خپله زده نه وي ،زده يې کړي.دقرآن د تلاوت لپاره وخت وسپموي. درود ویلو ته وخت ورکړئ....دا استغفار او درود ویلو لپاره په ناسته، ولاړه ځانونه عادت کړئ...دقرآن د تلاوت عادت خپل کړئ...دا الله کلام دی، وایاست يې ...دمحبوب کلام دی... ددنیا او اخرت دبریالیتوب علم دی، دنجات ټول اسباب پکښې ښودل شوي دی، صحیح ده وروره.
په میاشت کښې دري ورځې دجناح سوپرمارکیټ تللو ته ورکوي ...دلته په کلي کور کښې، دري ورځي وخت تبلیغي جماعت ته ورکړئ .دا انتظار مه کوئ چې څه مو زده نه دي .ته ووزه دعوت ورکول پیل کړه .دا خبره دومره زوراوره ده، چې ته ووزي نور به راځي او درسره وزي به .

# تر بې لمانځه سړي بل لوي مجرم نشته

چي په ځمکه سجده نه لګوي، ترهغه بل لوي مجرم څوک دی؟ زنا کول ګناه ګڼي.دلمانځه پرېښودل ترزنا ستر جرم دی .رشوت خوړل ګناه ګڼي، دلمانځه پرېښودل تر رشوت خوړلو ستره ګناه ده....وژل ستره ګناه پیژني .... د لمانځه نه کول تر قتل لویه ګناه ده. له سجدې څخه چې چا انکار کړی دی هغه شیطان دی.
شیطان زنا کړي؟کوم قتل يې کړي ؟څه شراب يې څښلې دي؟ څه قمار يې وهلي ؟ څه دشرک کار يې کړي دي؟
شیطان له سجدې څخه انکاروکړ.له سجدې په انکار د تل لپاره مردود وګرځید.
مسلمان دي پام نه کوي چې، په ورځ کښې دسلګونو سجدوله کولو انکار کوي، ناست وي نو بیا ؟
په ارامه ډوډۍ خورې، په ډاډه سره چاي څښې .... په ارام سره خاندې ....په ارامه اخبار لولئ.په ډاډه سره دمیرمنې خواکښې ناست وي.
له یوي سجدې په انکارسره شیطان دتل لپاره مردود شو.
هغه څوک چې دسهار له سجدي انکارکوي.د ماسپښین په سجده ملنډې وهي.مازدیګر، ماښام او ماخستن هم هغسې ....
دکورلمونځ هم څه ترنه کولو ښه دی. دا هم په لمانځه ملنډې دي... اتمه ورځ په سرخولۍ کښېږدي ...اته ورځې .... ددومره سجدو انکار ....له دي خبري نه ویرېږي چې الله به يې مردود کړي.

دالله رسول چي دقيامت په ورځ زمونږ نافرماني ووينې وايي به: (يارب ان قومي اتخذوا هذا القرآان مهجورا )
"اي زما مولا ! دازما امت دی، هغه چي زما قرآن يي پري ايښي ؤ. "
قرآن ورته ناري وهلي مسجد ته راشئ.هغوي دمسجد لوري پري ايښي وو.

## دجمعي دلمانځه کوونکو ته تنبيه !

دا راته ووايا ست، دادومره غونډه له کومه راغله...؟ داخلک دريمه برخه له بهرڅخه راغلي دي، له دريو څخه دوه برخي ددي کالوني (ګلستان کالوني ) خلک دي.ددي قدم دنورولمونځونو لپاره ولي نه اخستل کيږي؟
داچيري ځي؟ايا ديوه الله په ځمکه اته ورځي هستوګنه نه کوي؟ ايا يوازي اتمه ورځ دالله رزق خوري ؟ايا يوازي اتمه ورځ دالله اوبه څښي ؟ يوازي اتمه ورځ په ټنونو هوا تنفس کوي؟ ايا يوازي اتمه ورځ دالله له ورکړل شوي رڼا څخه ګټه اخلي؟ يوازي اتمه ورځ په خپلو غوږونو اورئ؟
ايا يوازي اتمه ورځ دخپل بدن له نعمتونو څخه استفاده کوي؟ايا يوازي اتمه ورځ دلمر له رڼا څخه نفع اخلي ؟ايا اتمه ورځ دستوريو له ځلا څخه خوند اخلي؟
ايا يوازي اتمه ورځ له خپلي ميرمني اوماشومانو سره کښيني؟په دي سخت زړيو څه شوي دي.ولي يي دروازي بندي دي؟ولي وران شوي دي.ايا ددوی زړونه تړه برو کلک نه دي؟

## لمونځ دالله له پاره وکړئ کنه !

څومره ناپوهي ده چي په پنځه وخته لمانځه داګمان وکړي چي آخرت جوړ شو.موږ پنځه وخته لمونځ وکړو. هلته چي تل پاته وي دهغه لپاره دوه ساعته زيارګالل ،دوه ساعته هم نه ،لس دقيقي دماخستن لمونځ چي هغه اوږد لمونځ دی.
په کلونو ما په مسجد کښي يو کس ليدلی دی. موږ دننه يو چي په وينو بايد وژاړو ...دادلمونځ کوونکو حال دی، د لمونځ نه کوونکو حال به څه وي؟
هغه چي په دوه ،دوه نيمي دقيقي کښي لمونځ وکړي. وايي بس جنت زما شو ،هلته چي تل نه او سيږي،هلته ټوله ورځ دماغ هم مصروف وي او زړه هم لګيدلي وي اوهلته چي به تل اوسيږي، دهغه لپاره پنځه وخته لمونځ هغه هم ۹۵٪ خراب.

څومره کسان دي چي، تر اوسه يي سهار وختي مهال نه دی ليدلی... له لمرختلو سره راپاځيږي....کله يي هم سهار د سجدي توفيق په برخه شوي نه دی.
څومره کورونه يي دي چي هلته په يوه ژبه هم قرآن ويل شوي نه دی. څومره کورونه دي چي د قرآن له تلاوت څخه بې برخي دي. څومره کورونه دي چي د لمانځه له سجدي څخه بې برخي دي؟

# د اهل الله په نزد د پاچهانو اهميت

نه ماشوم ته نه ماشومي ته ...نه سړي ....نه ميرمنې ...نه زاړه ....نه زړي، يوه ته هم د سجدي توفيق ورپه برخه شوي نه دی....څومره ستره بد مرغې ده.....څرنګه هلاکت دی. هر مسلمان سړی او ميرمن چي د الله دربار ته ځي، هغوي دي تياري ونيسي او هلته دي حاضر شي....
ميا ميرمحمد لاهوري ناست ؤ، يو مريد يي راغی حضرت حضرت ناري يي وهلي. هغه وپوښتل څه وشول؟ويي ويل: شاه جهان راځي ...هغه ويل: څه خبره ده ماويل څه وشول.
مريد وويل: داده...شاه جهان په دعوتونو کښې لا نه ليدل کيږي...
څوک چي لمونځ کوي د هغه ټول کارونه د مصلی( جاي نماز ) څخه کيږي....
لمونځ زده کړئ....د لمانځه زده کول څه دي؟ الفاظ زده کړي چي په هغوي موعلم وي...
او بيا له الله اکبر څخه ترسلام پوري ...پرته له الله جل جلاله نور څوک نه راځي...خو د المونځ په کورکښينا ستلو کښې نه کيږي....نه راځي... الله اکبر.... څوک به نه راځي....دزړه دروازي بندي کړئ...ددي لپاره کور پريښودل په کار دي. د کور په ناستي کيدلاي نشي.
دامفته سودا نه ده ، په کورکښې به ناست يي ....ته لاړ شه الله به يي درپه برخه کړي.
ته هغه کوه چي الله جل جلاله يي غواړي، د الله خوښه د محمد صلي الله عليه وسلم خوښه ده.... ددي لپاره لنډه لاره لمونځ دی چي په توجه او فکر سره وشي ... له پيسو پرته کار ....په دعاوو کارکيږي....په دعا هغه کارکيږي چي په کائناتو کښې يي څوک کولاي نشي...

# زه تا مفتي نه جوړوم

د فيصل آباد د دارالعلوم مهتمم مفتي زين العابدين وويل: ما په ريل ګاډي کښې سفر کاوو. د ماښام د لمانځه وخت شو ، زه ولاړ شوم د قبلي د معلوم ولو لپاره مي بهر ته وکتل. يوه شخص راته وويل: صوفي صاحب هر ځای لمونځ کيږي، په سيټ کښينه لمونځ وکړه ...

تاسيويني خلک په سيټ ناست دي لمونځ کوي،نه دقبلي لوری.نه قيام دا دواړه فرض دي.خلک وايي لمونځ کيږي.په ناولي سيټ کښينه لمونځ وکړه ،کيږي... هغه ته مي وويل: لمونځ نه کيږي... ويي ويل: ته څه خبر يي... هغه نه پوهيده چي له مفتي سره خبري کوي.مفتي ورته وويل: اوس خو مي تاته دفتوی کارنه دی سپارلی...قبله ښود يي وکوت، لمونځ يي وکړ....هغه شخص له چاپوښتنه وکړه دا څوک دی؟ورته ويي ويل:دامفتي زين العابدين دی. دفيصل آباد دی.هغه شخص هم دفيصل آباد ؤ.مفتي يي پيژاند خو ليدلي يي نه ؤ....دلمانځه ترفراغت وروسته يي ورته وويل: وبخښه ماونه پيژندلي....مفتي ورته وويل: تاسوګرم نه ياست، نن ټول امت مفتي دی....خلکو څه ،څه خبري جوړي کړي دي؟

وګورئ دا څه ډول تبليغ دی.... سپين ږيری پلار، سپين سرې مور پريږدي ،لاړشي.... د مور تر تلو لاندي جنت دی. دهغي خدمت وکړه ....دا جنت دی....حلال وخوره...دا جنت دی....لمونځ وکړه، دا جنت دی.

په ۲ ارب مسلمانانو ظلم کيږي،هغوي دوزخ ته ځي... موږ وايو ،زموږ په ذمه نه دي...ښه چي زموږ په ذمه نه دي... نو مسئول يي څوک دی؟

هغوي کتاب واخلي.... کتاب مړ شی دی.... له هغه ځخه پوهه څرنګه ترلاسه شي.... کتاب نقشونه دي.... څه ځرک لګيږي چي اخلاق څه ته ويل کيږي؟

# دځلورو کارونو اهتمام وکړئ

لومړی کاردذکر زياتوالی: لومړي کارچي په کثرت سره وشي.دهغه تفصيل مي درته ووايه.بس لمونځ دالله دقرب ذريعه وبولئ او اداء يي کړئ.

دوهم کار،دقرآن کريم تلاوت کوي:قرآن کريم ډير لولئ دا زموږ دمحبوب کلام دی.دمحبوبي ليک په مينه لولئ...په غور سره،خودخالق کلام په بي توجهي سره لولئ. تاسو ته او موږ ته ددي کلام دزور اندازه نه معلوميږي.

موږدقرآن په آهنګ نه پوهيږو ،چي دا په روح څرنګه برلاسي مومئ.

که کافروي او په قرآن وپوهيږي...هغوي ته جذبه ورکوي...تودوخه ورکوي..ابوجهل ،عمر رضی الله ته وويل: رښتيا داده.... چي په مکه کښي محمدصلی‌الله‌علیه‌وسلم ووژني، بل داسي څوک نشته.بغض اوکرکه دومره وه چي، د هغوي په هکله دام ليليه خاوند وايي:

دخطاب نيکه به مسلمان شي،خودخطاب زوی به مسلمان نشي.

دا کتاب په نن ټکی آسيا ويب پاڼه کي نشر شوی، تاسو کولای شی، چي نور هم ښه ښه کتابونه په لاندي ادرس کي ترلاسه کړی

www.nunn.asia

# قرآن سخت زړه د موم په څیر کړ

همدا عمر بن الخطاب ... د پردو شاته کښیناست ....له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یي قرآن کریم اوریده .کله چي به د شپي رسول الله صلی الله علیه وسلم د کعبي حرم ته راغی، په نفلونو کښني به یي قرآن لوست، عمر به پټ، پټ قرآن اوریده. رسول الله تلاوت کاوو او هغه اوریده:

الْحَاقَّةُ1 مَا الْحَاقَّةُ 2 وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحَاقَّةُ 3 كَذَّبَتْ ثَمُودُ وَعَادٌ بِالْقَارِعَةِ 4 فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهْلِكُوا بِالطَّاغِيَةِ 5 وَأَمَّا عَادٌ فَأُهْلِكُوا بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ 6 سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَثَمَانِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومًا فَتَرَى الْقَوْمَ فِيهَا صَرْعَى كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ 7 فَهَلْ تَرَى لَهُم مِّن بَاقِيَةٍ 8 وَجَاء فِرْعَوْنُ وَمَن قَبْلَهُ وَالْمُؤْتَفِكَاتُ بِالْخَاطِئَةِ 9 فَعَصَوْا رَسُولَ رَبِّهِمْ فَأَخَذَهُمْ أَخْذَةً رَّابِيَةً10 إِنَّا لَمَّا طَغَى الْمَاء حَمَلْنَاكُمْ فِي الْجَارِيَةِ11 لِنَجْعَلَهَا لَكُمْ تَذْكِرَةً وَتَعِيَهَا أُذُنٌ وَاعِيَةٌ 12 فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ نَفْخَةٌ وَاحِدَةٌ 13 وَحُمِلَتِ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَاحِدَةً14 فَيَوْمَئِذٍ وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ15 .( سورة الحاقة)

وا وریدل عمر رضی الله عنه ،حیران پاته شو... له ژبي یي ووتل: ما اشعاه، زورور شاعر دی ...عمر رضی الله عنه دا الفاظ وویل ،هلته رسول الله تلاوت کړل:

فَلاَ أُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُونَ 38 وَمَا لاَ تُبْصِرُونَ 39 إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ 40 وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ.(سورة الحاقة)

د عمر رض اټکل غلط شو. په زړه کښي یي وګرځیدل (نعوذ بالله) ځو مره لوي جادوکوونکی دی ...دومره لري یي زما خبره واوریدله ..سمدستي رسول الله صلی الله علیه وسلم دآیت ولوست:

وَلاَ بِقَوْلِ كَاهِنٍ ....دا جادوګر هم نه دي. قَلِيلاً مَا تَذَكَّرُونَ.....تاسو ته درک شته ،هیڅ نشته.تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ دادرب العالمین نازل شوی کلام دی....اوس به څه کوي....

موږ د قرآن اهنګ هیر کړی دی.

یوه اعرابي دا آیت واورید:

فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ. إِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ (سورة الحجر)

اعرابي قرآن نه مانه ....خو پوه شو ...ځمکي ته لاړ ...ځان یي قابو نکړاي شوای..موږ دډمي آواز بي قراره کوي... دا الله کلام مو نه بي قراره کوي..که موږ ته د قرآن څرک لګیدلای، بي قراره کیدلو به اوترنورو به وړاندي ،وړاندي وو.د قرآن دا وریدلو لپاره ...قرآن ټول کائنات کم وسه کړل. ...یوازي په تورو کښي دومره قدرت دی ...دا هغه کلام دی چي محمد صلی الله علیه وسلم په کوم ډول وایه..... چا یي مقابله کولاي نه شوای.

دا داسي کلام دی چي غرونه هم میده ،میده کوي.

دمکي مشرکو قریشو به هره ورځ سپکي سپوري ویلي .... خودشپي چي به رسول الله صلی الله علیه وسلم دتهجد په لمانځه کښي قرآن لوست.هغوی به په پټه غوږ ورته نیولي ؤ .همداسي کشش الله تعالی په قرآن کریم کښې ایښې ؤ. ابوسفیان ،ابوجهل، اخنس بن شریح ... قرآن داسي جذب کړل چي دزړونو قلفونه یي ورته مات کړل.

یو صحابي دی....عماد رضی الله عنه ...هغه ته خلکو ویل... زموږ یو قریشي ځوان دی،دهغه دماغ برابرنه دی....له هغه څخه ځان وساته... هغه وایي ما چي داخبري واوریدلي په زړه کښي مي وویل :زه به دهغه درملنه وکړم. دهمدي جنیاتو...زه به یي جن ولاړکړم. دا دومره خبره نه ده.... نوموړی وایي :زه مسجد ته ورغلم،ورته ومي ویل:زویه ! غم مکوه ما ستر ،ستر جنیات ولاړکړي دي او ستا جن به هم ولاړ کړم.رسول الله په غور سره راته وکتل.قرآن یي ونه لوست یوازي خطبه یي وویله:

الحمد لله نحمده ونستعینه ونستغفره ونؤمن به ونتوکل علیه.. ومن یهده الله فلا مضل له ومن یضلله فلا هادي له.... ونشهدان لا اله الا الله وحده لاشریک له ونشهد ان محمداً عبده ورسوله.

رسول الله صلی الله علیه وسلم لوستله ترڅو دي ځای ته ورسید... وایي:زما زړه ټوکرټوکرشو.په الله سوګند داسي کلام ما په ژوند کښي اوریدلي نه ؤ.... ورته ومي ویل: بیا یي ووایه.هغه ولوستله ...نو ما کلمه وویله.

زما عزیزانو ! الله جل جلاله راته داسي سترکتاب راکړي دی.په نړۍ کښي داسي کتاب نه موندل کیږي.... کله چي دانعام سورت له آسمان څخه نازلیده اویا زره ملایکي ورسره وي...داڅومره فضیلت دی.

# داد انسان کلام کیدلای نشي

یو ایرانی علامه تیرشوي دی.هغه ته عیسایانو ډیري پیسي ورکړي څو د قرآن په مقابله کښې یوکتاب ولیکې. هغه ورته وویل: تاسو زما اولاد ته یو کال روزي ورکړي زه به یي ولیکم. یوکال یي ورته په زیاته اندازه خوراکي توکې ورکړل. کورته به یي هم ورکول اوکتابونه یي برابر کړل ....ترشپږومیاشتو وروسته ورغلل پوښتنه یي تري وکړه ...هغه یوه لیکه هم لیکلې نه وه....

کله چي دکوثر سورت رانازل شو.په عربو کښې یو ستر شاعر ؤ ... دهغه له خولې بې اختیاره داخبره راووتله:

ما هذا قول البشر .... دادکوم انسان کلام نه دی.

داسي عظيم الشان قرآن الله رانازل کړي دی او زموږ په کورونو کښي يي همدا دولت لورولي دی.
" فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ إِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ "
دا آيت يو عرابي واورید ،سجدي ته ټيټ شو.... ورته وويل شول څه شي ته دي سجده وکړه ؟ ويي ويل: همدي کلام ته مي سجده وکړه..ځومره ښکلي کلام دي..... مسلمان نه ؤ ، خو د کلام په قدرت کښي يي سجده وکړه ... زموږ بدبختي داده چي، د قرآن په خوند او حلاوت نه پوهېږو.... دا څرنګه په روح اغېزکوي او څرنګه دزړونو تل ته رسېږي....

# د قرآن اغيز

جبير بن مطعم رضی الله عنه وايي :زه مديني ته ورسېدم مسجد ته ننوتم. رسول الله صلی الله علیه وسلم دماښام په لمانځه
کښي دا آيت تلاوت کاوو:
أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ. أَمْ خَلَقُوا السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ بَل لاَّ يُوقِنُونَ. أَمْ عِندَهُمْ خَزَائِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُونَ. (سورة الطور)
جبير رضی الله عنه وايي:دکلام له زوره نژدي ؤ زړه مي وچوي. هلته مي کلمه وويله ،کم وسی شوم... قرآن کريم ته مات او تسليم شوم.
اميه بن الصلت يو لوي شاعرتير شوی دی. درسول الله صلی الله عليه وسلم به دهغه اشعار ډېر خوښېدل. آها ،ها...رسول الله وفرمايل:
امن لسانه وکفر قلبه. دده ژبي ايمان راوړی،خو زړه يي کافر پاته دی.
دهغه کلام داسي ؤ.رسول الله به دهغه اشعاراوريدل. يو ځل يي دهغه سل شعرونه واوريدل... ويل يي نوررا واوره نورراواوروه، ترڅو يي سل واوريدل. يوه ورځ يي په مکه کښي وويل: تادنبوت دچل ،ول جال غوړولی دی.راشه راسره مقابله وکړه ...زه به هم څه ووايم او ته هم خپل کلام وړاندي کړه ...ويل يي راشه په حرم کښي به کښېنو.
له دي لوري عبدالله ابن مسعود او بلال رضی الله عنهما وو او بس همدا دوه کسان. هغه لور ته دمکي ټول قريش.هغه خپل نظم ،نثر او هرڅه وويل.خپـــل کمال يي ښکاره کړ
رسول الله ورته وويل: له ما څخه يي هم واوره.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيم . يٰس. وَالْقُرْآنِ الْحَكِيمِ. إِنَّکَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ.عَلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ.تَنزِيلَ الْعَزِيزِ الرَّحِيمِ.

(سورة ياسين)

څه وروره يٰس پيل شو. غونډ پوال په اوريدلو کښې ډوب شول، عربانو اوريدل.... د دنيا د ګټې لپاره انګريزي زده کوي.له الله سره د تعلق جوړولو لپاره د هغه کلام نه زده کوي..يوازي ژباړه لانه وايي چې قرآن څه شي دي... کله چې دي آيت ته ورسيد :

أَوَلَمْ يَرَ الْإِنسَانُ أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِن نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ وَضَرَبَ لَنَا مَثَلاً وَنَسِيَ خَلْقَهُ قَالَ مَنْ يُحْيِي الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ.

ويي ويل :ګورئ ،ګورئ... ما په خپله جوړ کړی دی،ما پيدا کړی له ما سره مقابله کوي...ځوک مړه هډوکې ژوندي کولای شي....داد قرآن زور دی ،هغه په سينه پسې ونيسي،پړی يې کلک کړی.

# دريم کار ،د دعا ډيروالی دی

ډيرې دعاوې کوئ.مايوځل مولانا احسان الحق صاحب ته چې زما استاد دی، د سبق په هکله د ستونزو بيان وکړ. هغه راته وويل دورځي شل ځلي د دعا کول خپل عادت کړه او په دعا کښې له الله څخه وغواړه.

(نن مو د دعا نه کوو د طوطي په څير جملي وايو.)

د الله بندګانو ! دعا چې د زړه له تل څخه راووزي. اه، ورسره وي سمه عرش ته ځي او الله ته رسيږي.

# ستا هاي ما ته خوښ دی

يوه سړي دعا کوي:يا الله !

الله تعالى وايي :ژر يې ورکړي..ژر يې ورکړي.... نه يې اوري.... نافرمانه دي ژر يې ورکړي.

يوه شخص ژاړي،يا الله ،يا الله ،يا الله !...دوهمه شپه يا الله، الله... دريمه شپه يا الله،يا الله کله مياشتي تيري شي کله کلونه تير شي. دي دومره يا الله، يا الله وايي چې، اخر ملايکي عرض وکړي :يا الله ! ستا سوامرمنونکی دی، ولي يې نه ورکوي.... الله تعالي جل جلاله فرمايي:

{اني احب ان اسمع عنينه} د هغه هاي ،هاي او زاري راته خوښې دي....

څه اوښکې تويي کړئ..که يې ورکړي بيا کله ژاړي... که يې ورکړي ،بيا کله ژاړي...

خوښېږي، وژاړي.... ژړا الله ته خوښه ده.دا چي موږ د دين له حقيقت څخه خبر نه يو ځکه حالات را ته پريشاني پيدا کوي، ناشکري کوو او کښينو.
که چا ته څه ورنکړل شي هغه الله ازمايي ...زموږ ژړل دي او ....

# په امانت کښي د خيانت سزاء

زما ورونو ! الله راضي کړئ، څو مره د کانونه دي چي، لمونځونه پکښې پاته دي...څو مره دو کانونه دي چي هلته سپيڅلتيا او ربښتيا والي ته طلاق ورکړل شوي دي... څومره د کانونه دي چي ديانت ورڅخه تللی دی....بي ديني ورته راغلي ده، خيانت ورته راغلی دی.
الله تعالی به د قيامت په ورځ بد دينه ته وايي :کوم امانت چي دي خوړلي هغه راوړه. وايي به: يا الله ! له کومه يي راوړم.هغه چي تا راکړي وو راڅخه پاته شول.
الله تعالی به وفرمايي: جهنم ته يي واچوئ....
هغه به دوزخ ته ځرنګه ځي؟ ملايکي به يي وهي ځه، ځه .... هغه به ځي او ځي به ترڅو د دوزخ خطرناکي برخي ته ورسيږي... هاويه... هغه به هغه ځای ته ورسوي چيري چي منافقين او سي...له ايمان سره، سره خيانت کوونکي خلک به ...هاويه.... ته ځي، هغه چي د منافقينو لپاره پکښې اور دی ....
هلته به ووينې، هغه مال چي په دنيا کښي ورکړل شوي ؤ، هلته پروت دي ...ښه دلته پروت يي، زه خو تباه شوم. هغه به راواخلي او پاس به يي راوړي چي د دوزخ څنډې ته يي ورسوې له لاسه به يي ولوېږي.او "هاويه" ته به ورسيږي....فرشـــتې به يي وهي ورته وايي به، ځه بيا يي راوړه ... خو هغه به يي خيژولای نشي.
له داسي ګټې څخه توبه وکړئ دا ګټه مو دوزخ ته رسوي.
د عقل خلاف هم دی ...الله تعالی وايي بد ديانتي او خيانت حرام دي... بيا په خپله پريکړه وکړې ... د هغه مقدر د بد ديانتي رزق وليکي .. دا ناممکن دي.الله تعالی وايي: رشوت حرام دی. بيا به په خپله په مقدر کښې رشوت وليکي... داسي نه کيږي....داممکن نه دي... دا په دنيا کښې هم کوم پاچا کولای نشي. له يوه شي څخه دي خلک منع کړي..بيا يي په خپله خلګو ته چمتو کړي او بيا يي ...هم وکړي. نو د ځمکو او آسمانونو پاچا به يي ځرنګه وکړي...رزق ټول حلال ليکل کيږي.
دا د عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنه روايت دی...

الله تعالی چاته د سود رزق نه لیکي ،چاته د رشوت رزق نه لیکي، چاته زنا نه لیکي ....دا پریکړه الله نه کوي.... هغه وايي زه ظــــالم نه یم، زه عادل یم،زه رحیم یم،خوبنده بې صبره کیږي، هغه اختیاروي.

# ځلورم کار، حلال خوري

زما ورونو ! په لږ حلالو کښې برکت دی.موږ په تقدیر نه پوهیږو.... د خپلې ګټې د حلالو لو هڅه کوي.که لږ وي خو حلال وي،حرام نه وي؛ الله پکښې برکت ږدي.هغه ډیروي ....دا خبرې په کورکښینا ستونه کیږي.د دروغو ویلو لپاره تبلیغ تللو ته ضرورت نشته. له ننه یې پرېښودلای شي. دلمانځه د کولو لپاره تبلیغ تللو ته اړتیا نشته،له نن څخه یې کولای شئ،دا پیل کړي.بیا دوتلو کوشش وکړئ.

زموږ په لومړنیو دوروکښې حکومتونه د اسلام د خپرولو لپاره ذریعه وه.هغه وخت تجارت د اسلام د خپرولو واسطه وه. نن زموږ تجارتونه د اسلام د ړینولو د ایستلو لپاره سبب دي.

په یمن کښې زموږ یوې ډلې تبلیغ کاوو.د کراچي یوه ملګري عبدالرشید خبرې کولې...د یوه ستر دوکان څښتن ؤ. هغه ته یې وویل:موږ ستاسو ورونه یو. له پاکستان څخه راغلي یو ،هغه سمدستي ترګریوان ونیو.ویې ویل: تاسو له پاکستان څخه راغلي یاست او په زوره یې کش کړ. ټول وارخطا شول،نه پوهیدل څه وشول. هغه یې وړاندې مغازې ته بوت.هلته د غوړیو هټۍ وه. ویل یې دا ټول غوړي له پاکستان څخه راغلي دي.یو پیپ یې خلاص کړ... چپه یې کړ. لږ پکښې غوړي او نوره خاوره وه.

دې پاکستاني خو روپۍ وګټلې، اما دومره نه پوهیږي چې، همدا یې دوزخ ته رسوي...

# د خوږو او ترخو توپیر

لومړي د دیانت دوره وه.مبارک نومي یو غلام ؤ.د هغه مولا باغ ته راغی...دانارو باغ ؤ.یو انار خوراوړه ... یو یې راوړ، هغه تریخ ؤ. ویې ویل:عجیب سړي یې. لس کاله کیږي، په باغ کښې کارکوي، دومره نه پوهیږي کوم انار خواږه دي او کوم بې خونده...

تاسو د کومو د ځلکلو اجازه راکړې وه،لس کلونه مې د کارتیر شول.د یوه دانه انار څکه را باندي حرامه ده.... نو څه پوه شم چې کوم خوندور دي او کوم بې خونده؟

سترګې یې ورته توري شوې...دا دیانت ؤ...

# دبل روزي پټول او خپله روزي ډېرول

یو ځل زه فیصل آباد ته لاړم.سهار مي لمونځ وکړاوتلم. یوریږۍ والا ولاړ ؤ، سپینه ږیره...سپینه پکړۍ ... له ریږۍ سره ولاړ او ژړل یې .ورسره ودریدم...داسې موقرشخص ښکلې څهره لري او مزدوري کوي... ولې ژاړې ؟

ماورته وویل:بابا جي ولې ژاړې؟ دمنوکریټ یې خوا کښېې ؤ. هغه یې واړاوو. دهغه په سرلس دوولس منې سمې او نوري ټولې خرابې وې.

ویل یې:زویه ! زه بې وزله کس یم .یو کریټ منې راوړم تریوولس دوولس بجو ورته ولاړیم هغه خرڅوم.کومې پیسې چې وګټم په هغوي ډوډۍ اخلم او کورته یې وړم.نن دې ظالم زما دماشومانو روزي غلا کړه ...

داتجارت دی خو دچا دماشومانو له خولې روزي باسې. دخلکو په مجبوریتونو تجارت کوي.داد شیطان تاجر دی.

درحمٰن تاجر نه دی.

هغه تجارت زده کول او ښودل په کار دي چې، وربانديي دنیا هم جوړه شي او اخرت هم.جنت هم وربانديي وګټل شي او اسلام هم وربانديي خپور شي...دانه ښیم چې هسې وخت وربانديي تیر شي.

دیوه صحابي زوي جامې خرڅې کړې.روا ګټه ۲۰۰ روپۍ وه خو هغه په څلورو سوو ګټه خرڅه کړې وه ... پلاریې هغه زیاتې ۲۰۰ بیرته اخستونکي ته ورکړې.... نن زمان که یې زوي همداسې وکړي پلار ورته آفرین وایي شاباسیورکوي او دایې کمال ګڼي...

زماورونو ! خپل تجارت په جایزه طریقه کوئ....

# په لکونو ریاله یې تر میني قربان کړل

پنځلس کاله وړاندې خبره ده.له مدینې منورې څخه یو شیخ راغی، سالم قرظي نومیده ،هغه دمدینې دټول ولایت دبانک تر ټولو ستر مامور ؤ.

له نن څخه پنځلس کاله وړاندې یې یولک ریاله معاش اخست. دلته راغی چې شل ورځې تیرې کړي....یوازې شل ورځې...دمدینې هستوګن نه پوهیږي چې سوداودسود کار وبار حرام دی .پوهیږي،هغوي په نبوي مسجد کښې لمونځونه کوي.خو هلته کمزوري وه .... زما په اټکل یې څلورمیاشتې هم نه دي تیرې کړې...

هغه لومړي شل ورځي تيري کړي.ترشل ورځوورسته لاړبانک يي پريښود...استعفي يي ورکړه.هلته دقانون شرايط داوو چي څوک کار پريښودلاي نه شواي.که يي پريږدي، جرمانه به پرې کوي.په جريمه کښې يې ټوله شتمني او جايداد بانک ته ورکړ او ځان يي خلاص کړ.
له مديني وتلي يي يوخام کوردرلود هلته هستوګن شو.
په ١٩٨٩ کال زه حج ته لاړم.دهغه کورته ورغلم، ډوډۍ مي ورسره وخوړله.زوړکورؤ او له مديني څخه شپږ اوه کيلومتره وتلي ؤ.
اوس يي بل کارپيل کړي دی.له بيديا څخه وزي راولي په مدينه کښې يې په ګنج کښې پلوري.
يولک رياله ګټونکی اوس له پنځه سوه رياله سره کورته ځي...کورته لاړ شي هغه پيسې ميرمنې ته ورکړي... دواړه خوښ دي... نن موکورته حلاله روزي راغله...له خوشحالې ژاړي... پنځه سوه چيري اويولک رياله چيري؟ خوهغوي دواړه له خوښې ژاړي، چي نن موحلال رزق کورته راغی.
هغه کال چي زه ورغلم ،ويي بللم،ډوډۍ يي راباندي وخوړه .هغه پخوا هم پوهيده چي داکارحرام دی ،نوهــغه
مهال يي ولي نه پريښود؟
هجرت اوکورپريښودل ذوق پيدا کوي خوشرط دادی چي وخت سم ولګوي.

# تر څو چي حرام په ګيډه کښې وي، پريشاني به وي

ټولو ورونړوته عرض کوم... په دي لاره کښې ضرور وخت تيري کړئ... نيت ورته وکړئ، که ويره لري، له دريو ورځو يي پيل کړئ... له خپله مسجده ... تاسوله مختلفو ځايونو تشريف راوړی دی،ناست ياست.له خپله مسجده څخه د دريو ورځو لپاره وتل پيل کړئ. دا دري ورځي وتل به يوه ورځ ستاسو دژوند دبدلولو سبب شي.
لمونځ کوئ...دالله لپاره مسجدونه ودان کړئ... له خپلو ګټو څخه حرام لري کړي.که ګټه کمه شوه، حتماً به کميږي نو مه خواپوري کيږئ. لمونځ وکړئ له الله وغواړي...بيا وګورئ چي الله جل جلاله درته څرنګه لاري پرانيزي.

# ستا ژړا به درته درزق دروازي پرانيزي

پاچا عبدالعزيز له تېوله هيواده غله ختم کړل، په دارېي وخيژول. يوه عرب راته وويل: سلطان عبدالعزيز مکې ته راغی، دکعبې له ديوال سره به کښيناست. په لاس کښې به يې توره وه اوژړل به يې....دعبدالعزيز استاد ترې وپوښتل: ولې دومره ژاړې؟
ويې ويل: ما دغلاوو مخه ونيوله.اوس به هغوي رزق له کومه خوري؟. اوس الله جل جلاله ته ژاړم چې:
ياالله !ستاحکم خو مې راژوندی کړ...
الله هم ورته خواړه پيل کړل....له اوو سمـــندونو ها خوا
ورته خلک راځي او په ځمکه کښې يې ورته تيل راپيدا کړل. دادحرامو پريښودلو او دحلال خوړلو برکت دی....
اوس هغوي نه پوهيږي چې، خپلې پيسې څرنګه خوندي کړي.نن چې هغوي څه غواړي وخوري، هغه خوړلای شي.

# دحرامو په خوړلو يې دکليمې ويل په برخه نه شول

علامه قرطبي رح يوه واقعه ليکي: يودکاندارسهار وختي دکان ته راغی.دخپل دکان تله يې ماته کړه.ګاونډي ورڅخه پوښتنه وکړه: ولې يې ماتوي؟ ويل يې زموږ يو ګاونډی مړ شو.موږ ورته وويل: لا اله الا الله..لا اله الا الله يعني کلمه وايه.هغه وويل: زه يې ويلای نشم.
موږ ورته وويل: ولې يې ويلای نشې؟
هغه وويل: زما ددکان دتلي (ترازو ) کړۍ زما په غاړه کښې لويدلې ده، زه کلمه ويلای نشم.
يودکاندار چې غلط تلل کوي..... وايي: ما سل روپۍ وګټلې. لس روپې مې بجت کړي، پنځوس روپې مې وګټلې. چې مړ شي دايې حال وي چې کلمه ويل يې نه په برخه کښږي.زماورونو !دخلکو معامله خوراګرانه ده.
نو ځانونه وساتئ دمسلمان حق درباندې پاته نشي.الله په خپله معامله کښې ډيرسخي دی.

ډيرسخي..دهغې سخا هيڅ حد نشته.

# دامانت دار حوالدار خواړه

په بهاول نګر کښې يو حوالدار په تبليغ کښې وخت تير کړ.حلال يې خوړل.ستونزې ورته راتلې لاس تنګی ؤ. هغه قصه کوله: يوه ورځ افسر راته وويل:ته په څه شي ګذاره کوې؟ما ورته وويل:که څوک قناعت وکړي ګذاره کيږي. او که قناعت ونکړي،نه کيږي.

ويې ويل:راوښيه ،ګذاره څرنګه کوې؟ ما وويل:خبره داده چې يو کال تير شو.زموږ په کورکښې څه پاخه نه شول، له چټني سره ډوډۍ خورو...يو کال بشپړ تير شو... زموږ په کورکښې قطغ ونشو. دا د الله هغه ولي دی چې دقيامت په ورځ به دالله جل جلاله ستر، ستر دوستان دهغه ګرد ته رسيدلای نه شي.

# پنځم کار ،چې تيری درباندې وکړي ويې بخښه

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

صل من قطع ....چې مقاطعه کوي ورسره رابطه وکړه.

واعط من حرمک ....چې څه نه درکوي هغه ته يې ورکړه.

وعف عن ظلم .... چې ظلم کوي هغه وبخښه.

بعثت لاتمم مکارم الاخلاق،بعث لاتمم محاسن الاخلاق. داخلاقو دبشپړتيا لپاره را استولی شوی يم.زه داخلاقي ښيګڼو دتکميل لپاره را استولی شوي يم.داخلاقو د ښيګڼې دتکميل لپاره يې را استولی يم.

# په عبادتونو کښې غوره عبادت اخلاق دي

زماوروڼو ! دلمانځه کول اسانه دي.اخلاق جوړول مشکل دي، ذکرکول اسان دي، اخلاق جوړول مشکل دي.څلويښت ورځې(په تبليغ کښې ) تيرول اسانه دي. اخلاق جوړول ګران دي.رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

"احسن خلق يکمل ايمان. "

يو اعرابي راغی درسول الله صلی الله عليه وسلم ترڅنګ کښيناست ويې ويل:

يارسول الله ما الدين؟ ....دين څه شي دی؟

رسول الله وفرمايل:حسن الاخلاق .... غوره اخلاق.

اعرابي ولاړ سو ،بل لوري ته کښيناست.

يا رسول الله ما الدين ، دين څه شي دی؟

دا کتاب په نن ټکی آسيا ويب پاڼه کې نشر شوی، تاسو کولای شی، چې نور هم ښه ښه کتابونه په لاندې ادرس کې ترلاسه کړی

www.nunn.asia

رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل :حسن الاخلاق-ښه اخلاق.
بیا مخته کښیناست.
یارسول الله ما الدین ....دین څه شی دی؟
رسول الله صلی الله علیه وسلم چي هغه وړاندي بي خبره ولید ویي وفرمایل:ته به څه وخت پوهیږي؟
ښه ....دین دادی چي غصه مه درولهوهو الاتغضب.
دین دادی چي قهرمه درولهله هغه سره اخلاق نه سمیږي، دهغه سره ټول نیکي بل ته ځي. دچا چي خبري خوږې نه وي ، هغه به له خپلي خولې څخه دوزخ ته ځي.
افلاادلک علی ملاک الامر کل...
بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:په یوه کار کښي وړوکي شي درته وښیم. تر ټولو کوچنی شی درته وښیم؟ بیا یي خپله ژبه را وایستله ویي نیوله او ویي ویل:
امسک علیک لسانک ...خپله ژبه نیولي وساته.
دکوم مسلمان خلاف دي ژبه ونه خوځیږئ.
یارسول الله ایا دژبي له امله هم څوک نیول کیږي؟
ویي فرمایل: ډیرکسان دبدي ژبي یعني غیبت او چغلي له امله دوزخ ته ځي.

# ددښمن ددوست کولو نسخه

په اختلاف کښي هم مینه کیدلای شي.که څه هم راي به یي سره یوه نه وي.خو شپږ خبري دي چي زړونه ماتوي او څلور خبري دي چي زړونه جوړوي .داڅلور خبري دښمن هم خپلوي او دا شپږ خبري دي چي دوستان او خپلوان هم لري کوي .وروږکلوي ختمیږي.دوست ، ددوست دښمن ګرځي.دیوي کلمي ویونکي دیوه او بل غاړي وهي. داڅلور خبري ژوندي کړي کافر به هم درته راشي.

# ما اخلاق ولیدل اسلام مي ومانه

رسول الله صلی الله علیه وسلم بیده ؤ. یو اعرابي راغی ،توره یي پورته کړه.رسول الله صلی الله علیه وسلم سترګي را پرانستلي.
اعرابي وویل:اوس به دي څوک راڅخه وژغوري ؟
رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:الله به مي وژغوري.
جبرائیل(ع) راغی هغه یي په سینه یو سوک وواهه. هغه ولوید اوتوره هم تري ولویدله.....

رسول الله صلی الله علیه وسلم توره واخستله او اعرابي ته یي وویل: اوس به تا څوک راځخه وژغوري؟
هغه الله نه پیژاند، ویي ویل: مابه نور څوک وژغوري؟ ته به مي وژغوري، ته به مي وژغوي.....
رسول الله وفرمایل: ځه لاړشه. مادنبي په توګه مني که نه؟
ویي ویل: نه دي منم.
قوم ته لاړ، هغوي ته یي همدا وویل، بیرته راغی او په اسلام مشرف شو.
ورونو! د رسول الله صلی الله علیه وسلم اخلاق زده کړئ.

# د اخلاقو له امله به دښمن ستاسو پښو ته راشي

یوه چا، عبدالله بن جعفررض ته سپکي سپوري وویلي هغه کورته ورغی. ورته ویي ویل:
وروره! څه چي دي ویلي دي، که هغه رښتیا وي دازما لپاره مصیبت دی او که تا غلطي کړي وي الله دي درته عفوه وکړي. هغه یي په پښو کښېي ولوید. نه، نه ما ښکنځل کړي دي، ته ما معاف کړه..... د ادي نبوي اخلاق.
یو صحابي راغی، رسول الله ته یي وویل: زموږ په ګاونډ کښې یوه مېرمن ده، دورځي روژه نیسي او دشپي تهجد کوي. خو نور ګاونډیان په تکلیف کوي. رسول الله وویل: ښه والي پکښې نشته، هغه به دوزخ ته ځي، هیڅ خیر پکښې نشته...

# کامل ایمان! څو څرنګه؟

یوه صحابي وویل: یارسول الله! زه غواړم چي ایمان مي کامل شي... رسول الله ورته وفرمایل: اخلاق سم کړه ایمان به دي بشپړ شي. ته خپل اخلاق سم کړه، دنړیوالو ددعوت لپاره همدا اعمال دي. اخلاق سمول.... بلنه ورکول.... تعلیم... خدمت کول.
امام زین العابدین رح ته چا ښکنځلي کولي. بلي خواته یي مخ واړاوو ناست ؤ. یوه شو چي هغه په دي نه پوهېږي چي زه ورته سپکي وایم. نژدي ورغی ورته ویي ویل: تاته ښکنځل کوم... تاته.
امام صاحب ورته وویل: مابخښلی یي.

# شپږم کار، د الله د مخلوق خدمت کوئ

زما ورونو ! په عبادت جنت ګټل کیږي، خو په خدمت خدای جل جلاله مومئ. د الله د مخلوق اړتیاوي پوره کول ځومره ستر عمل دی. تاسو یي فکر هم کولای نشي. د قیامت په ورځ به الله فرمایي:

[یا بني آدم استطعمک فلم تستطعمني]

"ای زما بنده ! زما ډوډۍ ته اړتیاوه، تارا باندي ونه خوړه. "

هغه به وایي: یا الله ته له هرعیب څخه پاک یي . وبه فرمایي: زما فلاني بنده چي تاته راغی که تا ورته ډوډۍ ورکړي وای.دهغي اجر تا له ما څخه غوښت، لکه زما په خزانه کښې چي جمع کیده.

(یا بني آدم استقیتک فلم تستقیني)

ای زما بنده ! ما له تا څخه اوبه وغوښتلي، تارا باندي اوبه ونه څښلي.

بنده به وایي: یا الله ! ته رب العالمین یي. وبه فرمایي: زما بنده چي تږي ؤ او درغی، که دي اوبه ورباندي څښلې وای، داسي وي لکه ماته چي دي راکړي وای.

(یا بني آدم مرضت فلم تعدني .........الله اکبر)

د مسلمان پوښتنه کول څومره ستره خبره ده.

هغه به وایي: یاالله ! ته له هرعیب څخه پاک یي. الله به وفرمایي: زما فلانی بنده ناروغ ؤ . که دي دهغه پوښتنه کړي وای داسي وو لکه زما پوښتنه چي دي کړي وای. داسي وخت په اړتیا پوره کولو. الله څومره خوشحاله کیږي.

# د ښه چاپېریال اهمیت

زه د کوم تبلیغي جماعت د شمول بلنه نه درکوم.نه زه له کوم تبلیغي جماعت سره معاوضه کوم، نه زه کوم سکرتر جوړیږم.هلته چي کوم ممبر نه وي سکرتر چیري دي؟صدر به چیري وي ،مشر له کومه کیږي؟ زه د الله او دهغه رسول ته جواب ورکوونکی یم. زه دهغه لپاره تیاري کوم. نن مسمومو فضاګانو زموږ محیط ناولی کړي دی.نن خو په کورنو کښې کتاب موندل کیږي، چاپیریال ته یي له کومه راوړو.

موږ زهد مطالعه کوو ،زاهد چیري وینو ؟..تقوی لولو متقي چیري ومومو ؟.حیا لولو ،حیاناک چیري وګورو. موږ خو پاک لمني لولو ،دپاک لمنو خبري له کومه کړو موږ سخاوت لولو ،سخي له کومه کړو.

زما ورونو ! همداسي لامبو زده کوي اوبه نه ليدلي کيږي،لامبو څرنګه وهله کيږي.ايماني صفات په لوستلو نه راځي دالله په لارکښې په وتلو راځي.

وآخر دعوناان الحمد لله رب العلمين.

دژباړي پای : ۱۳۸۲/۴/۱۵هـ ش

هجرت نړۍ

دا کتاب په نن ټکی آسيا ويب پاڼه کي نشر شوی، تاسو کولای شی، چي نور هم ښه ښه کتابونه په لاندي ادرس کي ترلاسه کړی

www.nunn.asia